# په سویډن کښې د پښتو ژبې د زده کوونکو

# د پښتو ژبې د تدریس اووم کتاب

# ۷

ترتیب کوونکی : عبدالعلي رسول زاده
۳۰\۸\۲۰۱۲

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس هم شامل کړئ دئ چي نومړې یې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، ځکه یې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب کړئ دئ. وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي.

د ۱۹۸۳ عیسوي کال راهیسي د پښتو او دري ژبو تدریس هم د لومړي ځل د پاره د مالمو په ښار کښي پیل سوئ دئ. په لومړیو وختو کي موږ د درسي موادو سره ډېر مشکلات درلودل، مګر په دا اخرو وختو کي مو یو شمېر کتابونه لاس ته راوستلي دي چي د هغو څخه په استفاده مو اوس دادي و کولای سوای چي دغه نیمګړي مواد ترتیب کړو چي د یوې خوا په سویډن کي د ښوونځیو د تعلیمي نصاب سره او د بلي خوا د زده کوونکو د سویې او اړتیا سره برابر وي.

دغه کتابونه په لومړي سر کي په سویډن کي د پښتو ژبي د زده کوونکو له پاره ترتیب سوه، کله چي مو د پښتو ژبي په پاڼه (www.pashto.se) کي کښېښودل او د نړۍ په نورو هیوادو کي په زړه پوري هیواد والو و لیدل نو ځینو خلکو یا تلیفونونه را ته وکړه او یا یې میلونه را و لېږل. پدې کار یې موږ ډېر تشویق کړو او هم یې د کتابونو او زموږ د پاڼي په هکله ښې ښې مشورې راکړې چي د دوی د دې تشویق او مشورو څخه یې زیاته مننه کوو او موږ به هڅه و کړو چي دغه درسي مواد تر دې لا نور ښه کړو او هم د نورو هیوادوالو څخه غوښتنه کوو چي دغسي درسي مواد و لیکي او موږ ته یې راولیږي چي د هیواد والو د استفادې د پاره یې پدې پاڼه کي کښېږدو.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنیو، پخوانیو او ځني نورو کتابو څخه راټول سوي دي.
د نورو کتابونو د پاره د پښتو پاڼي څخه کتنه وکړئ www.pashto.se

په درنښت

Abdul Ali Rasulzada
Sunnan vägen 271
216 17 Malmö
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسلام پیغمبر

د اسلام د پیغمبر نوم حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) دئ چي د سعودي عربستان د مکې شریفي په ښار کي زېږېدلی دئ.

پلار یې عبدالله نومېدئ او د مور نوم یې بي بي امینه وو. پلار یې دده تر پیدا کېدو دمخه لا وفات کړئ وو.

د حضرت محمد (ص) د پیدایښت پــه وخت کـي د مکې خلکو د خدای په یووالي عقیده نه درلوده او هر چا ځان ته د ډبرو (تیږو) څخه خدایان جوړ کړي وه او سجدې به یې ور ته کولې. په ټولنه کي بد کارونه ډېر وه، خلکو غلاوي کولې او لوڼي به یې ژوندۍ ښخولې.

کله چي حضرت محمد (ص) ځوان سـو د خلکو ددې بـدو کارو څخه به یې بد راتله او هر وخت به یې د خلکو سره پدې هکله خبري کولې. کله چي پیغمبر سو نو خلکو ته به یې د خدای (جل جلاله) لاره ښودله او ډېر خلک یې سمي لاري ته راواړول. خلکو خپل تر منځو ورور ګلوي شروع کړه. حضرت محمد (ص) د درو شپېتو کالو په عمر وفات سو او زیارت یې په مدینه منوره کي دئ.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| وفات | مړ | مکه شریفه | په سعودي کي یو ښار دئ |
| عقیده | باور | مدینه منوره | په سعودي کي یو ښار دئ |
| په دې هکله | په دغه خبرو کي، پر دغو کارو | | |

پیغمبر هغه څوک چي خدای (ج) د خپلو بنده ګانو د لار ښوونې د پاره ټاکلی وي او د خدای (ج) خبري د خدای (ج) بنده ګانو ته رسوي.

## د مکې شریفې او مدینې منورې په باره کې څه لنډ معلومات:

مکه شریفه هغه ښار دئ چې هلته حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) زېږېدلی دئ. په دې ښار کې کعبه شریفه هم پرته ده. کعبه شریفه یوه خونه ده چې هلته حاجیان د حج کولو د پاره را ځي.



---

تمرین: لاندې پوښتنو ته جواب و وایاست!

۱- حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) د چا زوی وو؟

---

۲- پیغمبر څه معنا؟

---

۳- د حضرت محمد (ص) پلار څه وخت وفات سو؟

---

۴- د حضرت محمد (ص) د پیدا کېدو په وخت کې خلکو څه کول؟

---

---

---

۵- لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ ؟

وفات : ________________________________________

پيغمبر : ________________________________________

عقيده : ________________________________________

سجدي : ________________________________________

وروړکلوي : ________________________________________

پيدايښت : ________________________________________

په دې هکله : ________________________________________

تېر لوست و لولئ او په لنډ ډول يې و ليکئ چي څه مو ځيني زده کړي دي ؟

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

# تـوكــه

د لړم څخه يو چا پوښتنه وکړه چي ولي په ژمي کي د باندي نه راوزي.

لړم ورته وويل چي "په اوړي کي مي څه قدر کيږي چي په ژمي کي هم د باندي راووزم".

---

**لغاتونه:**

قدر عزت، احترام عاجزي نرمي، په پستو خبرو

تمرين: زده کوونکي دي جواب و ليکي!

لړم ولي په ډېره عاجزي و ويل چي ،، په اوړي مي څه قدر کيږي چي په ژمي هم را و وزم ،،




ځيني کومکي لغاتونه:

دا ځکه چي ، زهر ، چيچي ، نيښ

_______________

_______________

_______________

_______________

_______________

# دروا‌غجـن اخـر شـرمیږي

د یوه سړي آس ورک شو، ډېر ور پسې و ګرځېد خو پیدا یې نه کړ، اخر د ځاریو (حیوانانو) پر یوه بازار ور برابر شو، که ګوري چې یوه سړي څلور اسان (اسونه) د خرڅلاو د پاره درولي دي چې د ده آس هم پکښې دئ، دی ورغئ او خرڅوونکي ته یې وویل: "دغه آس زما دئ، د پرون راهیسې رانه ورک شوئ دئ."

خـرڅوونـکي وویل: "تــه خطا وتلئ یې، دا زما پر خپل اوخور لوی شوئ دئ."

د آس خاوند ور وړاندې شو د آس پر دواړو سترګو یې یو ټوکر ور واچاوه او خرڅوونکي ته یې وویل:

" ښه که دا ستا آس وي، ته ووایه چې کومه سترګه یې ړنده ده."
خرڅوونکی: "کیڼه سترګه."

د آس خاوند: "دروا‌غ وایې، کیڼه سترګه یې روغه رمټه ده."

خرڅوونکی: "نه رښتیا پام مې نه وو، ښۍ سترګه یې ړنده ده."

د آس خاوند: "دروا‌غ دې وویل، دواړې سترګې یې جوړې دي. که آس ستا پر اوخور لوی شوئ وای نو تا به یې ښۍ او کیڼه سترګه نه ړندوله."

خرڅونکي سترګې کښته واچولې او سړي آس ځیني بوتئ.

**لغاتونه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| وړاندي | مخ ته | کینه | چپه |
| ښي | راسته | روغ رمټ | پوره جوړ |
| څاروی | هغه حیوان چي څړ کوي یعني ګرزي او واښه خوري | | |
| اوخور | هغه ځای دئ چي حیواناتو ته د خوړلو د پاره واښه او نور خواړه پکښي ور اچوي. | | |

تمرین: لړم ولي و ویل چي په اوړي کي مي څه قدر کیږي چي په ژمي هم را و وزم؟

**دا چي** ______________________________

______________________________

______________________________

د آس خاوند ولي د آس پر مخ ټکر ور وا چاوه او آس خرڅوونکي ته و ویل چي چي کومه سترګه یې ړنده ده؟

______________________________

______________________________

______________________________

**اوخور څه شی دئ؟**

______________________________

# د پښتو ژبې الفبې

د پښتو ژبې الفبې دغه لاندې توري لري.

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ
ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و (ه ـه هـ) (ی ي ې ۍ ئ)

- ❖ په دغو تورو کې (ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق) توری خاص د عربي ژبې توري دي.
- ❖ (ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ) خاص د پښتو ژبې توري دي.
- ❖ (پ چ ژ ګ) د پښتو او فارسي تر منځ شریک توري دي.

که غواړو چې ښې پښتو خبرې و کړو نو ښه به دا وي چې داسې لغاتونه په کار واچوو چې د دغو (ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ) څخه یو یا څو پکښې را غلي وي.

پام لرنه: زده کوونکي دې ټوله الفبې زده کې او هم دې د پښتو او عربي ژبې خاص توري جلا کړای شي!

# کـــال

کله چي مځکه پر خپل شا و خوا ګرزي شپه او ورځ ځني پیدا کیږي. یوه شپه او یوه ورځ چي سره یو ځای سي یو شواروز بلل کیږي. یو شواروز څلور ویشت ساعته دئ. اوه شواروزه یوه اوونۍ (هفته) ده.

کله چي مځکه د لمر پر شا و خوا ګرزي ددې حرکت څخه کال پیدا کیږي.

یوکال څلور فصلونه لري چي هر فصل یې درې میاشتي دئ او نومونه یې دادي لکه: پسرلی، دوبی (اوړی)، منی او ژمی.

یو کال دوولس میاشتي دئ. یو کال دو پنځوس اوونۍ (هفتې) دئ. یو کال ۳۶۵ ورځي او شپږ ساعته دئ. د څلورو کلو دغه شپږ شپږ ساعته سره یو ځای کیږي او یو شواروز ځیني جوړیږي نو ځکه هر څلورم کال ۳۶۶ ورځي وي چي دغه کال د کبیسه کال په نامه یادیږي.

---

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ!

۱- شپه او ورځ ولي پیدا کیږي؟

___

___

۲- شواروز څه ته وایي ؟

---

---

۳- کال څو فصلونه لري د هر فصل نوم یې و لیکئ !

---

---

۴ - کال څو هفتې (اوونۍ) لري ؟ ____________

۵ - هر کال ۳۶۵ ورځې لري ، کبیسه کال ولې ۳۶۶ ورځې لري ؟

---

---

---

۶ - لاندي لغاتونه په جملو کې استعمال کړئ !

شاو خوا : ____________

شواروز : ____________

اوونۍ : ____________

فصل : ____________

حرکت : ____________

د کال مياشتي پښتو او عربي نومونه لري چي دلته لاندي ليکل سوي دي:

| پښتـــو | عـــــربي |
| --- | --- |
| وری | حمل |
| غويی | ثور |
| غبرګولی | جوزا |
| چنګاښ | سرطان |
| زمری | اسد |
| وږی | سنبله |
| تله (ترازو) | ميزان |
| لړم | عقرب |
| ليندۍ | قوس |
| مرغومی | جدي |
| سلواغه | دلو |
| کب (ماهی) | حوت |

د کال لومړۍ ورځ د وري د مياشتي لومړۍ ورځ ده چي و دغي ورځي ته نوروز ويل کيږي او د پسرلي فصل يا موسم هم ددغي ورځي څخه پيل کيږي چي د عيسوي کال د مارچ د مياشتي د ۲۱ نېټي سره برابره ده.

---

لغاتونه:

حرکت　　ګرځېده　　پيل　　شروع

نوروز　　د کال لومړۍ (اوله) ورځ

عيسوي کال　　هغه کال چي د حضرت عيسا (عليه السلام) د زېږېدو د ورځي څخه شمېرل کيږي.

څلور فصلونه په دغو میاشتو کې وي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| حمل (وری) | پسرلی | اوړی | سرطان (چنګاښ) |
| ثور (غویی) | | | اسد (زمری) |
| جوزا (غبرګولی) | | | سنبله (وږی) |
| میزان (تله، ترازو) | منی | ژمی | جدي (مرغومی) |
| عقرب (لړم) | | | دلو (سلواغه) |
| قوس (لیندۍ) | | | حوت (کب، ماهی) |

# ټوکـــه

یوه باغوان یوه هلک ته چې وني ته ختلئ وو، نارې کړې "چې په ونه کښې څه کوې؟"

هلک وویل: "ستا د وني یوه څانګه را لوېدلې وه، هغه مې واخیستله چې بیرته یې په ونه کښې ټینګه کړم."

---

تمرین: د لوړې ټوکي څخه مو څه زده کړه؟ اي دغه هلک څه فکر کاوه چې په ونه کي یې څانګه بیرته ټینګول؟

---

---

---

# پسرلی

پسرلی د کال لومړی فصل (موسم) دئ. دا فصل د کال د لومړۍ ورځې څخه شروع کیږي او د حمل، ثور او جوزا په میاشتو کي دوام کوي. پدې فصل کي وني چي په ژمي کي بیدې (ویدې) سوي وي د خوبه را ویښیږي، نوي پاڼي راوړي، او مېوه لرونکي وني شګوفه (ګلان) کوي. کوچي مرغان بیرته خپلو کورو ته راځي. بزګران په خپلو مځکو کي کار پیل کوي. ګلان غوړیږي، بوراګاني او بلبلان بیا پر ګلانو ګرزي. ټوله انسانان د نوي کال او نوي ژوند په فکر کښي کیږي. میږي وري پیدا کوي او مالداران شیدې او مستې خوري او خرڅوي یې. ورځې اوږدیږي. شاعران د نوو شعرونو د ویلو په فکر کي کیږي.

---

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ!

۱- پسرلی د کال کوم موسم دئ او په کومو میاشتو کي را ځي؟

---

---

۲- په پسرلي کي کوم شیان پېښیږي؟

---

---

---

---

# اوړی

دا فصل د کال دوهم فصل دئ چي د سرطان، اسد او سنبلې په میاشتو کي دوام کوي. په اوړي کي هوا توده وي خلک په خپلو کارو لګیا وي. اوړی د کار او زیار موسم دئ. ټوله خلک خوشاله وي او په مځکو او باغو کي مېلې کوي. بزګران غنم لو کوي او د ژمي د سختو ورځو او شپو دپاره توښه او اذوغه (خواړه) برابروي. پخوا چي نړۍ دومره پر مخ تګ نه وو کړئ نو خلکو په پسرلي، اوړي او مني کي په خپلو پټيو کي کار کاوه او د ژمي د سختو ورځو د پاره یې غلې او دانې ساتلې. مګر اوس چي د خلکو ژوند یوازي پر کښت او کرهڼه نه دئ ولاړ نو انسانان د کال په ټولو موسمونو کي په یو کار اخته وي.

په اوړي کي په افغانستان کي د شپې د خوا خلک یا په سرایو کي او یا پر بامو بیدیږي (ویدیږي). د ورځي د خوا یې په ډیرو ځایو کي تر مځکي لاندي خوني جوړي کړي وي او په هغو کي ژوند کوي چي هغو ته زېرخانې وایي.

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| اوړی | دوبی | دوام | ادامه، پایښت |
| لګیا | اخته، مشغول | زیار | کوښښ، زحمت |
| لو | رېبل، پرې کول | توښه | اذوغه، ذخیره، خوراکي شیان |
| پټی | د کرلو مځکه | کرهڼه | کښت، کرنه، زراعت |

تمرین:

۱- لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ!

اوړی: ________________________________

دوام: ________________________________

لګیا: ________________________________

زیار: ________________________________

لو: ________________________________

توښه: ________________________________

پټی: ________________________________

کرهڼه: ________________________________

۲- لاندي لغاتونه په پښتو معنا (ترجمه) کئ!

حرکت: ________________________________

پیل: ________________________________

نوروز: ________________________________

عیسوي کال: ________________________________

وړاندي: ________________________________

کینه: ________________________________

۳ - لاندې جملې په سویډني ترجمه کړئ!

دغه فصل د کال دوهم فصل دئ.

دغه فصل د سرطان، اسد او سنبلې په میاشتو کې دوام کوي.

په اوړي کې هوا توده وي.

خلک په خپلو کارو لګیا وي.

اوړی د کار او زیار موسم دئ.

ټول خلک خوشاله وي او په مځکو او باغو کې مېلې کوي.

پخوا چې نړی دومره پر مخ تګ نه وو کړئ نو خلکو په پسرلي، اوړي او منې کې په خپلو پټیو کې کار کاوه.

۴ – تمرین: لاندي پښتو متن په سویډني ترجمه کړئ!

# اوړی

دا فصل د کال دوهم فصل دئ چي د سرطان، اسد او سنبلې په میاشتو کي دوام کوي. په اوړي کي هوا توده وي خلک په خپلو کارو لګیا وي. اوړی د کار او زیار موسم دئ. ټوله خلک خوشاله وي او په مځکو او باغو کي مېلې کوي. بزګران غنم لو کوي او د ژمي د سختو وروځو او شپو دپاره توښه او اذوغه (خواړه) برابروي.

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

۵ – تمرین: لاندي لغاتونه په سویډني ترجمه کړئ!

ښځه : ________________________________________

روغ رمټ : ________________________________________

څاروی : ________________________________________

اوخور : ________________________________________

# مــنی

دا فصل د کال دریم فصل دئ چي د میزان، عقرب او قوس په میاشتو کي دوام کوي. په دې موسم کي خلک ثروتمند( خان ) وي. د باغو او مځکو حاصلات لکه مېوې، غلې او دانې اخلي. څه يې خرڅوي او څه يې د خپل خوراک د پاره ساتي. په مني کي هوا مخ پر سړېدو وي. د مني ساړه بادونه چلیږي یخني ورځ په ورځ زیاتیږي. مرغان تودو ځایو ته کوچ کوي، وني پاڼي رژوي، ګلان مړاوي کیږي. د ونو ژیړې پاڼي د مځکي پر مخ لکه ژیړ فرش غوړېدلي وي. منی خلکو ته خبر ور کوي چي ژمی را روان دئ او د ژمي د پـاره خـواړه، تاوده کالي، د کورو د تودولو د پاره بوټي (لرګي)، سکاره، او نور د ضرورت وړ شیان برابر کړئ.

پدې موسم کي بزګران د بیا کرلو د پاره تخمونه راټولوي او ساتي یې څو یې په راتلونکي کال کي بیا په خپلو مځکو کي و کري.

لغاتونه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دوام درلودل | غزېدل، اوږدېدل | ثروتمند | خان، شته من |
| حاصلات | لاس ته راتلنه لکه مېوې او غلې | یخني | ساړه، یخ |
| کوچ | کډه | ضرورت | احتیاج، اړتیا |
| فرش | کمبله، د ناستي ټغر | | |

تمرین:

۱- منی د ځانه سره څه را وړي او خلک څه شی لري؟

لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ!

دوام : ______________________________

ثروتمند : ______________________________

حاصلات : ______________________________

يخني : ______________________________

کوچ : ______________________________

فرش : ______________________________

ضرورت : ______________________________

۲- لاندي لغاتونه په پښتو معنا کئ!

اوړی : ______________________________

لو : ______________________________

لګيا : ______________________________

زيار : ______________________________

کرهڼه : ______________________________

توبنه : ______________________________

پټۍ : ______________________________

۳- پــه مني کي چي خلک د خپلو مځکو او بــاغو حاصلات خـرڅ کي په پيسو يې څه کوي ؟

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

# ژمی

په ژمي هوا سړه وي په ځينو ځايو کي واوري اوريږي. ټوله مځکه په واوره پټه وي، وابنه، ګلان، کښتونه او وني نه وي شنې. ټولي وني او بوټي د ژمي په اوږده خوب بيده وي. بزګران د ډيرو سړو او يخني په نسبت بې کاره وي. که د مځکي د کرې په شمالي خوا کي ژمی وي نو په جنوبي نيمه کره کي يې اوړی يا دوبی وي ، او بيا کله چي د مځکي د کرې په شمالي خوا کي اوړی وي نو په جنوبي نيمه کره کي ژمی وي. دا چي مرغان په ژمي کي خواړه نه سي پيدا کولای ځکه نو تودو ځايو ته کوچ کوي. چنګوښي، ماران او نوري خزندې هم د ژمي په اوږده خوب بيدې وي.

په سړو ځايو کي تازه مېوې نه پيدا کيږي. خلک د يخني په نسبت د پسو وچي غوښي (لاندی) چي تر ژمي تر مخه يې لا وچي کړي وي خوري. ژمی د غريبو خلکو د پاره ډېر سخت وي.

په ژمي کي خلک په خپلو کورو کي سندلۍ، بخارۍ، منقلونه او د تودوخي نور شيان په کار اچوي.

---

يادونه:
ښوونکی دي زده‌کوونکو ته د مځکي د کرې د شمالي او جنوبي نيمو کرو په هکله په پښتو ژبه معلومات ور کړي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| سړه | يخه | کوچ | کډه |
| خزندې | لکه لړم، مار..... | يخني | ساړه |
| غريب | خوار، مسکين | | |
| سندلي | د مېز په شان څلور پښې لري چي په ژمي کي په منقل کي اور تر لاندي ايږدي او بړستن (تلتک) پر اچوي او خلک ځانونه په تودوي. | | |

---

تمرين: لاندي پوښتنو ته جوابونه و ليکئ!

۱ - که د مځکي د کرې په شمالي نيمه کره کي ژمی وي نو په جنوبي نيمه کره کي کوم موسم وي او ولي؟

جواب: دا ځکه چي ____________________________

________________________________________

________________________________________

۲- په ژمي کي ولي د نړۍ په ټولو هيوادو کي تازه مېوې نه پيدا کيږي؟

جواب: دا ځکه چي ____________________________

________________________________________

________________________________________

# کلمه Ord

د ملګرو ملتونو د معلوماتو له مخي په نړۍ کي د ۶۰۰۰ په شاو خوا کي ژبي شته. د هغو ژبو د جملي څخه يوه هم پښتو ده. هره ژبه ځانته يو شمېر ږغونه لري کوم چي د هغي ژبي د الفبې توري دي.

کوم ږغونه چي د پښتو ژبي خبري کوونکي يې د خولې را باسي د الفبې لاندني توري يې سمبولونه دي لکه:

ا ب پ[٣] ت ټ[٢] ث[١] ج چ[٣] ح[١] خ څ[٢] ځ[٢] د ډ[٢] ذ[١] ر ړ[٢] ز ږ[٢] ژ[٣] س ش ښ[٢] ص[١]
ض[١] ط[١] ظ[١] ع[١] غ ف[١] ق[١] ک ګ[٣] ل م ن ڼ[٢] و (ه ـه ه) (ی ي ې ۍ ئ)

د پورتنۍ الفبې هر توری د يوه ږغ د ښکاره کوولو د پاره جوړ سوئ دئ.

که دوه يا څو توري سره يو ځای شي يوه خبره ځيني جوړېږي چي هغه ته کلمه وايي. که دوې يا څو کلمې سره يو ځای شي د هغه څخه جمله جوړېږي.

کلمې پر لاندي ډولو دي لکه:

اسم (نوم)
صفت
ضمير
فعل
قيد

د وصل توري
د ربط توري

د پورتنيو کلمو د جملې څخه دلته لاندي فعل لولو :

## فعل Verb

فعل هغه کلمه ده چي د يوه کار کول ښکاره کي لکه : ځم ، پرې کول ، و يې لوست ، راشه ! ، خوړل ، منلي يې دي او نور . يو څو مثالونه يې په سويډني ژبه کي لکه : gå, springer, skrev, arbetade, läser

تمرين : په لاندي جملو کي فعلونه پيدا کئ او يو خط تر لاندي و ليکئ ! وروسته بيا ټول فعلونه پر هغه ليکو (کرښو) و ليکئ کوم چي لاندي ليکل شوي دي .

## ملا نصرالدين

يو سړی په يوه سارا کي د يوه ځای څخه و يوه بل ځای ته تئ چي د ملا نصرالدين سره مخامخ سو او د ملا نصرالدين څخه يې پوښتنه وکړه چي "څو ساعته وروسته به هغه بل کلي ته و رسيږم؟" ملا نصرالدين ورته وويل چي "لار دي وهه."

هغه سړي بيا پوښتنه ځني وکړه چي " څو ساعته وروسته به هغه بل کلي ته ورسيږم؟"

ملا ورته ويل : "لار دي وهه"!

هغه سړي د ځانه سره فکر و کړ چي دا سړی لېونی دئ بیا به پوښتنه نه ځیني کوم نو یې خپله لار واخیستله. څو ګامه چي یې واخیسته ملا نصرالدین ور نږغ کړه: " دوه ساعته وروسته به هغه بل کلي ته و رسېږې."

---

---

---

---

# جمله Mening

جمله د څو کلمو د یو ځای کېدو څخه جوړه شوې وي. یوه جمله په دوو ډولو وي چي یوه یې په خبرو کي په خوله ویل کیږي او بله یې په لیکلي ډول وي.

هغه جمله چي خبري کوونکی یې په خبرو کي راوړي په مختلفو ډولونو یې اورېدونکو ته د اواز (نږغ) له لاري ور پوهوي.

کله چي خبري کوونکی غواړي چي د لیکني له لاري لوستونکی په خپلو خبرو و پوهوي نو د جملې په پای کي یوه نښه ایږدي. دغه نښې ډیري دي خو یو څو به یې دلته لاندي و لولئ.

دلته لاندي به د جملو یو درې ډولونه په پښتو او سویډني کي و لولئ:

۱- بیانیه جمله
۲ – امریه جمله
۳ – سوالیه (پوښتنه) جمله

۱- بیانیه جمله: هغه جمله ده چي د یوې خبري بیان کوي او په پای کي يې ټکی (.) را ځي لکه:
په پښتو کي د بیانیه جملې مثال:

احمد کابل ته ځي.

په سویډني کي:

Ahmad åker till Kabul.

۲- امریه جمله: هغه جمله ده چي خبري کوونکی د یوه کار د کولو یا نه کولو امر کوي او په پای کي يې (!) راځي لکه:

په پښتو کي:

ډوډۍ و خوره!
ډوډۍ مه خوره!
Ät mat!
Ät inte mat!

۳- سوالیه (پوښتنه) جمله: هغه جمله ده چي لیکونکی پوښتنه کوي او د جملې په پای کي د پوښتني نښه، په پښتو کي (؟) او په سویډني کي (?) را وړي:

سواليه جمله په پښتو کي:
سواليه جمله که په خبرو کي وي فرق (توپير) يې د بيانيې او امريې جملې څخه په دې سره کيږي چي خبري کوونکی د جملې پر وروستۍ برخه باندي د اواز (ږغ) زور راوړي. خو په ليکنه کي د جملې په پای کي زياتره وختونه د (آيا) کلمه او د جملې په پای کي د پوښتني نښه (؟) راوړل کيږي لکه:

آيا احمد کابل ته ځي؟

د پښتو او سويډني تر منځ فرق (توپير) په دې کي دئ چي په سويډني کي فعل د جملې سر ته را ځي او د جملې په پای کي د پوښتني نښه را ځي لکه:

Åker Ahmad till Kabul?

دلته لاندي تاسي دواړه د پښتو او سويډني يو يو مثال وينئ لکه:

په پښتو ژبه کي فعل د جملې په پای کي را ځي لکه:

احمد په ښوونځي کي د ملګرو سره خبري و کړې.
په پورته جمله کي تاسي وينئ چي (و کړې) فعل دئ او د جملې په پای کي را غلئ دئ.

په سويډني جمله کي فعل په دوهم ځای کي را ځي لکه:

Ahmad pratade med sina klasskamrater i skolan.

# کلتور

کلتور د ژوند هغه څه دي چي موږ ته د خپلو پلرو او نیکه ګانو څخه را پاته سوي دي لکه دین، ژبه، عادتونه، دود (رسم او رواج) او داسي نور.

دود چي په سویډني کي ور ته tradition ور ته وایي لکه د کالو جوړول او د کالو اغوستل دي چي خلک څرنګه د خپل دود سره برابر کالي جوړ کړي او څه ډول یې واغوندي، څه ډول واده وکړي او په واده کي کوم خواړه و خوړل سي او خلک څه ډول واده ته مېلمانه سي او داسي نور.

په نړۍ کي انسانان په ټولنو کي ژوند کوي، که یې کلتورونه سره و ګورو نو به یې کلتورونه ډېر سره جلا او بېل وي. د مثال په توګه د سویډن په ټولنه کي خلک د واده مراسمو ته دومره ډېر اهمیت نه ور کوي مګر په افغاني ټولنه کي باید سړی د خپل توان په اندازه د واده مېلمستیا جوړه کړي. دا کار کوي که څه هم پیسې (اقتصادي قدرت) نه لري، پور کوي خو دغه کار کوي.

د پښتنو د کلتور یو ډېر د ستاینې وړ کار د پښتنو جرګه ده:

---

لغاتونه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نړۍ | دنیا | | ستاینه | صفت، په ښه نوم یادونه | |
| ټولنه | اجتماع، ګډ ژوند | | بېل | جلا | |
| مراسم | دودونه، رواج | | توګه | شان، ډول | |

یادونه: ښوونکی دي زده کوونکو ته د افغاني کلتور نور مثالونه هم و وایي.